مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۸/۰۳

# د کابل ودونه

هغه وخت زما نه رایادېږي، چې په کابل کې به ناوې په ډولیو کې ورل کېدلې. زه چې وړکی وم، د ناوې لپاره به يې ګلپوښ موټر راوسته. هاغه مهال شخصي موټرې بيخي کمې وې. عام وګړي به د ګلپوښ لپاره ټکسي موټرې کرايه کولې. شخصي موټر به د يوه نيم بختور سړي په برخه کېده، که د چا دوست يا خپل به شخصي موټر درلوده؛ نو ناوې به يې په هغه کې سپرېدله. کله کله به له دولتي موټرو هم دغه کار اخيستل کېده. نن سبا که څه هم د موټرو شمېر خورا زيات شوی دی او په ځينو کورونو کې خو ان دوه درې موټرې هم ولاړې وي؛ خو ناوې او زومان په ډېرو لوکسو موټرونو پسې ګرځي. ليموزين تر ټولو لوکس موټر دی، چې د لس ګزو په شاو خوا کې اوږد دی، درې دروازې لري، د ناستې لپاره دوه مخامخ سيټونه يې په منځ کې دي. د دې موټرو کرايه نه پوهېږم چې پينځه سوه که زر ډالره یانې پينځوس زره افغانۍ ده. تر ليموزين وروسته کېمري موټرې دي، چې په اوه زره يا لس زره افغانيو کرايه کېږي. د ۲۰۰۷ ماډل کورولا موټر کرايه بيا پينځه زره افغانۍ ده.
دېرش کاله پخوا به د نکريزو په شپه کې، چې تر واده به يوه شپه مخکې وه، شوله (مۍ په وريجو کې) پخېدله؛ خو پر سبا يې چې د واده ورځ به وه، پلو، غوښې، سبزي او چپس به پخېدل. اشپز به وريجې په مسي غوريو کې اچولې. د وريجو پر سر به يې غوښه (معمولاً کوفته) سبزي او چپس اېښودل او له پاسه به يې يوه دانه پرکي ډوډۍ، چې لکه پاستي وي، اېښوده. د خان او غريب د واده ډوډۍ به يو رنګه وه؛ خو د خان په واده کې به مېلمانه ډېر وو او د غريب په واده کې لږ. اشپزي نايانو ته ورپه غاړه وه. مسي دېګونه او غورۍ به په جوماتونو کې وو. د هر جومات ولس به پيسې سره ټولې کړې او مسي لوښي به يې پرې واخيستل. د کرايي لوښو دوکانونه لکه اوس دومره ډېر نه وو. وروسته چې په هوټلونو کې ودونه نسبتاً عام شول، د کور په ودونو کې هم ناشکن لوښي رواج شول. د شيشه يي لوښو ښېګڼه دا وه، چې د وړلو پر وخت به يې لکه مسي غوريو د سړي لاس نه سوځاوه. څنګه چې په هوټلونو کې وريجې په غوريو کې جلا وي او غوښې، سبزي، فرني او نور شيان هم ځان ځان ته په جلا لوښو کې وي؛ نو د کور په ودونو کې هم د لوښو شمېر زيات شو. د ډوډۍ ډولونه هم ورسره زيات شول. تر وريجو لاندې يخني غوښه، له چپس سره، سره کړي چرګان، ميوه او د څښاك لپاره کوکاکولا يا فانټا هم ودونو ته لاره وکړه. د کار کسان چې به د لوښو مينځل هم ورپه غاړه وه، تر واده وروسته به دوه درې ورځې د ملا او ولو په دردونو اخته وو. په همدې خاطر اوس اکثره ځوانان په ودونو کې له کاره تښتي او که کار وکړي؛ نو هسې ورځ اړوي.
يو چا د خپل ورور واده ته وربللی وم. په يوه لوکس هوټل کې يې واده و. د هوټلونو ډوډۍ څو مينو ګانې لري، اوله درجه، دويمه، درېيمه او څلورمه درجه. د شتمنو خلکو لپاره تر اولې درجې پورته سپيشل مينو هم وي، چې د دوی په خوښه د کبابونو، غوښې او ميوو نور ډولونه هم لري. دغه سړي هم سپيشل مينو تياره کړي وو. هرو لسو کسانو ته يې پر نورو خوړو سربېره، د عربي پسونو دوه دوه ورنونه، چې هر يو به يې څلور پينځه کيلو وي، او څلور دانې سره کړي چرګان هم اېښي وو. کباب، دوپيازه، داشي او د يخني غوښې يې هم ښې پرېمانې وې. اکثر کسان په غوښو ماړه شول، وريجې دغسې پاتې وې. ډوډۍ چې خلاصه شوه، يو د پاخه عمر خبېتور سړی مې وليد، چې په غاښونو کې يې خلې واهه او خپل انډيوال ته يې ويل: ((د ده څه و څه... غوښه يې بوی کا)) واده والا به غوښتل چې خپلو دوستانو ته ځان غټ وښيي؛ خو تربورانو يې ښځې ته زياړې وکړي.
په دې واده کې د طب يوه خبره مې رایاده شوه. د انسان د هاضمې سيستم په شواروز کې يوازې ۳۰۰ ګرامه پروټين جذبولای شي. که تر دې زيات پروټيني مواد وخورو، هسې پر خپلې معدې ظلم کوو، ځکه چې اضافي پروټين مو بېرته له کولمو څخه وځي او بدن ته نه جذبېږي. پروټين په هر څه کې شته؛ خو په غوښه، لوبيا، نخود، مۍ، شيدې،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

مستي او هګۍ کې زيات دي. نو د واده ښتن ته که خپلو تربورانو زياړې وکړې، د نورو مېلمنو معدو به هم ورته بشپړاوې کړي وي.
د ناوې پر سينګار ځيني سينګارګراني ان پينځوس زره افغانۍ اخلي. دوی اکثره وخت د سينګار لپاره دومره غليظ مواد کاروي، چې د ناوې طبيعي ښکلا په کې ورك کېږي.
پخوا به د اکثرو ښځو د غاړې او ګوتې ګاڼې يو خېل وې، ايراني ګردې طلاوې، چې پوند بلل کېدلې، هم د ګوتو او هم د غاړکيو او غوږواليو په جوړولو کې کارېدلې. د ناوې لپاره به اکثرو خلکو دوه يا درې دانې ګوتې، يوه جوړه غوږوالۍ او يوه غاړکۍ اخيستله؛ خو اوس د ګاڼو رنګ رنګ ډيزاينونه، عربي، بحريني، سينګاپوري، مدراسي او نور راپيدا شوي. که څه هم په دې ټولو ډولونو کې د سرو زرو فيصدي تقريباً يوه اندازه ده؛ خو د جوړښت د ډيزاين په وجه يې بيې سره ډېر توپير لري. اوسنۍ اکثرې ناوې پر دوو دريو ګوتو، غوږوالۍ او غاړکۍ نه قانع کېږي. دوی د خپلو ګوتو په شمېر ګوتې، د غوږ د سوريو په تعداد غوږوالي، شپږ يا دولس دانې طلايي بنګړي او تر نامه پورې اوږده غاړکۍ غواړي.
په اول سر کې چې د هوټل ودونه رواج شول، هر چا به هڅه کوله چې لږ کسان وروبولي، معمولاً به يې د کور په سر دوه دوه کسان خبرول. په اکثرو ودونو کې به يونيم يا دوه سوه کسان مېلمانه وو. د طالبانو په حکومت کې زما د ملګري د ماما د زوی واده په کندهار کې وو. ما په لومړي ځل وليدل، چې شاوخوا دوولس سوه کسان يوه واده ته راغلي وو. د زوم پلار غټ تجار و او همدا يو زوی يې درلود. اوس په کابل کې د هر عام سړي په واده کې له پينځو سوو تر زرو تنو کسان وربلل کېږي.
پخوا به د فلم اخيستلو لپاره يوازې يوه کمره کارېدله؛ خو اوس د کمرو يونټ چې معمولاً درې څلور کمرې، همدومره کمره مينان او لايټ مينان، ويډيو ميکسر او نور ترټ ولغت کرايه کېږي.
ناوې به پخوا هم د واده پر ورځ دوې جوړې جامې کولې او اوس يې هم کوي، د نکاح جوړه چې زرغون رنګ يې وي او د واده جوړه چې سپين رنګ لري؛ خو زوم چې پخوا به يې ځان ته يوازې سپين خت پرتوګ، يا توره دريشي جوړوله، اوس دوه يا درې جوړې دريشۍ جوړوي.
پر دې نورو بې ځايه لګښتونو سربېره ځيني نور منفي رواجونه هم شته، چې په مصنوعي توګه پيدا شوي دي، مثلاً په ځينو ودونو کې د ناوې خور يا د ترور لور د کيك د غوځولو چاړه پورته کوي، په نڅا پيل کوي او تر هغو پورې يې زوم ته نه ورکوي، چې په بدل کې يې له هغه څخه پيسې وانه خلي.
د نڅېدونکو پر سر د پيسو شيندل، چې ځينې ورته احمق پولي وايي، د کبر او غرور بله نښه ده. ځينې کسان په دې توګه ځان غټوي.
دغه بدلونونه، د ودونو لګښت لسګونه وارې زيات کړی دی. د اوس د يوه واده په پيسو به پخوا لس يا تر دې زيات ودونه کېدل. بده يې لا دا ده، چې اوس غريب خلك هم د شتمنو پيښې کوي. په لوکس هوټل کې لوکسه ډوډۍ جوړوي او زيات کسان مېلمانه کوي. دوی چې په واده کې خامخا پوروړي کېږي، تر واده وروسته د دې پر ځای چې له خپلې ناوې سره له نوي ژونده خوند واخلي، په اندېښنه کې وي، چې اوس به پور څنګه پرې کوي؟
د هر ډول دودونو ماتول ډېر جرئت غواړي. موږ ځکه رواجونه په پټو سترګو منو، چې خلك راته بد ونه وايي؛ خو خلك په هر حال د چا ښه نه وايي. که خلکو ته ډېره لوکسه ډوډۍ ورکړې؛ نو وايي چې: ((دومره پيسې يې له کومه کړې؟ خامخا به يې غلا کړې وي)) او که ډوډۍ يې په طبعه برابره نه وي؛ نو وايي: ((چې په وس کې يې نه دي؛ نو ولې خلك رابولي.)) هوښيار خلك او واقعي دوستان بيا په دې کيسو کې نه وي، دوی د خپل دوست په خوښۍ باندې خوشالېږي، نه په ډوډۍ.
که د خلکو په خبرو پسې وګرځو، خپل ژوند به مو تريخ کړی وي. د ملا نصرالدين هغه ټوکه دلته پوره سمون خوري، چې وايي: ملا له خپل زوی سره چېرته روان و. زوی يې پر خره باندې کېنولی و، دی پلی و. پېتاوي ته ناستو سپين ږيرو خپلو کې سره وويل: څومره بې ادبه هلك، پلار يې پلی دی، دی پر خره سپور دی. هلك چې دا خبره واورېده، کښته شو. پلار ته يې وويل چې ته سپور شه. بل کلي ته چې ورسېدل، خلکو وويل: دا غټ سړی وګوره، شرمېږي هم نه، په خپله سپور دی، زلمکی زوی يې په پښو روان کړی، خوارکی ستړی به شي. ملا خپل زوی هم پر خره پورته کړ. څو ګامه لا نه وو تللي، چې بيا يې د خلکو غږ واورېد، چې ويل يې: څومره ظالم خلك دي، د خرې ملا خو يې ورماته کړه. دواړه کښته شول. د بلې سيمې خلکو وويل: دې کم عقلو ته وګوره، خره يې خوشې روانه کړې او دوی دواړه پلي ځي. ملا وويل که د خلکو واورې؛ نو يوه کار ته به دې هم پرې نه ږدي.
بايد تر هر کار د مخه ځان سره فکر وکړو ، چې کار مو سم دی که غلط؟ که سم و نو بايد د خلکو په خبرو پسې ونه ګرځو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ